**دافغانستان اسلامی امارت**
**دارشاد حج و اوقافو وزارت**
**دمجمع علمی ریاست**
**د افتاء آمریت**

شماره ...............        تاریخ    /    / ۱۴۰۰

د پنځمې ناحيې د حضرت سعد بن معاذ (رضی الله عنه) دجامع جومات د اهالي وو داستفتا د غوښتنلیک متن :

د اسلامی امارت د ارشاد، حج او اوقافو وزارت محترم مشرتابه ته!

د قدر وړه ! جومات چې د اسلام له لويو شعايرو څخه ګڼل کيږي او ورڅخه دفاع اوساتنه دهرمسلمان وګړي ايماني وجيبه ده ، پورته ياد جومات د کابل ښارمرکزي سيلو کوټه سنګي دعمومي سړک پر غاړه موقعيت لري، چې ځلويښت کاله وړاندي په اساسي توګه محوطه شوی او په خپل حدودو کې محفوظ و ، خو په ډېر تأسف سره بايد ووايو، چې احسان الله نامي د دقانون اوشريعت خلاف بې له دې چې دجومات حرمت او قدسيت په نظر کې وساتي او بې له دې چې خپل تعمير ته حريم پريږدي، دجومات په پورتنی (فضايي حريم ) باندې يونيم په يوويشت متره کې برنډې او پيکونه تير کړي، چې په پايله کې زمونږ جومات له سختو تحديداتو سره مخ ده ، چې د هغو له جملې څخه دا هم دي : له يادې پلازې څخه پر مونږ لمونځ کوونکو کثافات ، خځلي ، دتشناب کاغذونه اود ماشومانو پمپرې اچول کيږي آن د لمانځه پر مهال دماشونانو شور او د نامحرمو ښځو غږونه اوريدل کيږي، چې زمونږ لپاره دسخت اذيت سبب ګرځي.

ديادونې وړده ، چې ياده ودانی د دوو عمومي سړکونو پر غاړه پرته ده ،ولې بياهم احسان الله غواړي دهغې ټولو خواوو ته موقعيت ورکړي اودجومات ځمکه دخپلې پلازې سړک او پلې لارې لپاره غصب کړي . سربيره پر دې د تعجب ځای دادی، چې د بلاک مالک غوښتل او غواړي، دجومات له هغې برخې، چې وربانديې له ځلويښتو کلو راهيسې لمونځ کيږي، دخپلې پلازې سړک او پلی لاره ترې جوړه کړي

د موضوع په اړه، په تير کې د حج او او قافو وزارت د باصلاحيته هيئتونو د پريکړو (۲۷/۳۴۷۷/ ۱۰/ ۱۳۹۱) شميرې او ( ۱۳۹۱/۱۱/۱۰/۳۶۰۴) شميرې په اساس، د پيکونو د سمدلاسه غوځولو حکم هم صادر شوی و، خو په تير حکومت کې د پراخ فساد دشتون له وجې، وربانديې کوم عملي اجراات تر سره نه شول . اوس چې اسلامي امارت حاکم شوی او دغاصبينو د ځپلو وخت راغلی، غواړو پيکونه يې غوځ شي. پوښتنه دا ده، چې په جومات باندې برنډې او پيکونه تيرول او همدارنګه د جومات ځمکه غصبول څه حکم لري ؟ او بايد څه ورسره اوشي؟ په ډېر درنښت.

د وزارت دمقام حکم:

دمجمع علمي رياست! په دې اړه شرعی ځواب ورکړئ.

د رياست کتنه اوحکم : دافتاء آمريت ! په دې اړه لازم اجراات ترسره کړئ .

دافتاء آمريت ګومارنه (محترم مولوی عبدالستار ، مولوي صديقی اومولوي محمد عارف دې په دې اړه شرعي مالومات ورکړي.

الجواب باسم ملهم الصواب

حامدا لله تعالى و مصليا على رسول الله

محترمو ښاغلو: د حضرت سعد بن معاذ (رضی الله عنه) دجامع جومات په اړه، باید ووایو: چې جومات او دهغه اړونده ساحه، له هغو وقفي املاکو څخه ګڼل کیږي چې هیڅوک آن چې پاچا نشي کولای په هغې تیری وکړي، یعنې: وران ، خراب، هبه، عوض ، بدل اویا یې کومه برخه په لاره بدله کړي، بالعکس که د اړتیا په صورت کې دعمومي لارې یوه برخه په جومات کې شامله شي ، نه دا چې باک نه لري، بلکې د اسلامي شریعت له مخې، دا غوره کار ګڼل کیږي.

بناءا، جومات له هر نوعه تیري څخه محفوظ دی. کوم کس چې ورباندې تعرض وکړي، غټ ظالم او وران کار بلل کیږي او دا کړنه یې د آیتونو او احادیثو په خلاف کړنه ده .

د اسلامي امارت په اړوندو ادارو لازمه ده، څو د یاد جومات په ورانډې د هرنوعه تعرض مخه ونیسي او د یادې ودانۍ هغه برخه چې د جومات په پورتنۍ برخه یې پیکونه تېرکړي، غوځ کړي.

والدليل على ماقلناه:

(۱) {**وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَى فِي خَرَابِهَا**} [البقرة: ۱۱۴].

ژباړه: له هغه نه بل غټ ظالم څوک دی، چې دالله (جل جلاله) جوماتونه له دې څخه منع کړي، چې دالله تعالی نوم پکې یاد کړای شي او د ورانولو هڅه یې کوي.

(۲) «**الضرر يزال؛ لأن الضرر هو ظلم وغدر، فيجب إزالته كما أنَّ شجرة كبرت وتدلَّت أغصانها على دار جاره، فيجب إزالة الضرر بقطع الأغصان**» (دررالحكام شرح مجلة الأحكام ۱ توک ۳۳/مخ (۲۰ ماده).

(۳) «**يُكره تحريماً البول والتَّغوُّط والوطء في المسجد؛ لأنه مسجد إلى عنان السماء**» (الدرالمختار ۱ توک ۷۰۷ مخ ).

(۴) «**العلماء قالوا في أحكام المساجد مثل الزركشي ، المسجد مسجد إلى سابع سماوات وإلى سابع أراضين** » مجلة مجمع الفقه الاسلامي ۲ توک ۱۸۵۱ مخ)

(۵) **قال النبي صلى الله عليه و سلم: {مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الأَرْضِ يَعْنِى ظُلْمًا طُوِّقَهُ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ }** (صحيح البخارى ۱ توک ۳۷۴ مخ).

(۶) **قال النبي صلى الله عليه و سلم: {لَيْسَ لِعِرْقٍ ظَالِمٍ حَقٌّ}** (سنن أبی داود ۲ توک ۱۹۴ مخ).

یانې دظالم ونه ریښه تلرې.

(۷) «**وَلَوْ غَرَسَ أو بَنَى في أَرْضِ الْغَيْرِ قُلِعَا وَرُدَّتْ**» (البحرالرائق ۸ توک ۱۳۳ مخ). ژباړه: که چیری کینوي (نیال) یا جوړه کړي ودانۍ د بل چا په ځمکه کې، نو ودې ایستل شي څه یې چې کېنولي او ودان کړي او زمکه دې خپل څښتن ته وسپارل شي.

(۸)«**لا يَجُوز نَقض المسجد ولا بيعه ولا تعطيله، وإن خربت المحلة**» (الجامع لأحكام القرآن ۲ توک/ ۷۸ مخ).

ژباړه: دجومات ړنګول نه دي روا اونه يې هم خرڅول او بېکاره کول روا دي، که څه هم محله ورانه شي.

**(۹) «وإن استغنى الناس عنه لبناء مسجد آخر، يبقى مسجداً عند أبي حنيفة وأبي يوسف أبدا إلى قيام الساعة، وبرأيهما يُفتى فلا يعود إلى ملك الباني وورثته،  ولا يجوز نقله ونقل ماله إلى مسجد آخر، سواء كان يُصلون فيه أم لا. وقال المالكية: المساجد لا يحل بيعها أصلا بالاجماع. و قال الشافعية: إذا انهدم المسجد أو انقطعت الصلاة فيه، لم يعد إلى ملك أحد ولم يجز التصرف فيه بحال»** (رد المحتار ۳ ټوک/ ۴۰۶ مخ، فتح القدير ۵ ټوک / ۵۸ مخ، بدائع الصنائع ۶ ټوک / ۲۲۰ مخ ).

ژباړه: که چيرې خلک له يوه جومات څخه دبل جومات په جوړولوسره مستغنى شول، بيا هم هغه دتل لپا ره جومات پاتې کيږي، دا د امام ابو حنيفة او ابو يوسف وينا ده او فتوا هم ددوی دواړو  په دې وينا ورکول کيږي. بناء، هغه جومات بېرته جوړونکي او نه هم د هغه ورثوو ته د ملکيت په توګه ورګرځي. همدارنګه نه دي جائز، د دې جومات او د هغه سامان انتقالول بل جومات ته، که مسلمانان لمونځ پکې کوي او يا نه. مالکيان وايي: دجومات خرڅول په هيڅ ډول روا نه دي. شوافع بيا وايي: کله چی جومات ړنګ شي اويا لمونځ پکې نه ادا کيږي، د هيچا ملکيت ته نه ورګرځي، او په هيڅ صورت تصرف پکې روا نه دی.

**(۱۰) « كَمَا جَازَ جَعْلُ الإمامِ الطريقَ مَسْجِدًا لا عَكْسه؛ لِجَوَاز الصَّلاةِ فِي الطريقِ لا المُرور في المَسْجِد، فَلَمْ يَجُزْ جَعْلُهُ طَرِيقًا»** (الدر المختار ۴ ټوک ۵۷۶ مخ ).

**(۱۱) «قَوْمٌ بَنَوْا مَسْجِدًا وَاحْتَاجُوا إلَى مَكَانٍ لِيَتَّسِعَ الْمَسْجِدُ وَأَخَذُوا من الطَّرِيقِ وَأَدْخَلُوهُ في الْمَسْجِدِ، إنْ كان يَضُرُّ بِأَصْحَابِ الطَّرِيقِ لا يَجُوزُ ، وَإِنْ كان لَا يَضُرُّ بِهِمْ، رَجَوْتُ أَنْ لَا يَكُونَ بِهِ بَأْسٌ، كَذَا في (الْمُضْمَرَاتِ) وهو الْمُخْتَارُ، كَذَا في (خِزَانَةِ الْمُفْتِينَ). إنْ أَرَادُوا أَنْ يَجْعَلُوا شيئًا من الْمَسْجِدِ طَرِيقًا لِلْمُسْلِمِينَ، فَقَدْ قِيلَ: لَيْسَ لهم ذَلِك وَأَنَّهُ صَحِيحٌ كَذَا في الْمُحِيطِ» (الفتاوى الهندية ۲ ټوک /۴۵۷مخ، المحيط البرهاني ۲ ټوک / ۹۶ مخ ).**

ژباړه : که د اړتيا په صورت کې، خلکو يوه برخه د لارې، د جومات د پراخی په موخه، په هغه کې ورګډه کړه، نو که چيرې په دې کړنې سره، د لارې خلکو ته کوم زيان او  ضرر رامنځته کېده، جواز نلري او که زيان ورته نه رسېده، بيا کوم باک نلري. همداراز که يې وغوښتل چې دجومات له يوې برخې لاره جوړه کړي، ځيني علما وايي: دا کار ورته روا نه دی او همدا قول صحيح دی.

**(۱۲) «حائِطُ المَسْجِدِ مِنْ داخِلِه وخارِجِه، لَه حُكْمُ المَسْجِد في وُجُوب صِيَانَتِه وتَعْظِيم حُرماته ، وكَذا سَطْحه وَالبِئْرالتِى فِيه، وكَذا رَحبَتُه» (الفقه الإسلامي وأدلته ۱ټوک / ۳۹۹ مخ ).**

ژباړه : دجومات  ديوال دواړه اړخونه په حرمت  اوقدسيت کې دجومات په څير دي ، همدارنګه دهغه چت ، او پکې څاه ، او د جومات فنا (هغه ساحه چې ورپوري د جومات ګټې تړلې وي) حکم يې د جومات په څير دی، يعني: حرمت  يې لازم دی .

**(۱۳)«وَالْفِنَاءُ تَبَعُ الْمَسْجِدِ فَيَكُونُ حُكْمُهُ حُكْمَ الْمَسْجِدِ» (الفتاوى الهندية۲ ټوک/ ۴۶۲ مخ ).**

ژباړه : دجومات  فنا د همغه تابع ده او حکم يې د جومات په څير دی.

له پورتنیودلایلو څخه دا په ډاګه شوه ، چې جومات له هر نوعه تیري څخه خوندي دی. کوم کس چې وربانديې تعرض وکړي، غټ ظالم او وران کار دی او دغه کړنه يې د آياتونو اواحاديثو په خلاف کړنه ده .

بناءا، د اسلامي امارت په اړوندو ادارو لازمه ده، څو د ياد جومات په وړانديې د هرنوعه تعرض مخه ونيسي او د يادې پلازې هغه پيکونه او برندې، چې د جومات په پورتنۍ (فضايي) حرم تير شوي، غوڅ او پرې کړي.

همدارنګه دياد جومات ځمکه په لاره ياسړک نشي بدليدلی ، بلعکس که د اړتيا او خلکو ته د زيان نه رسيدلو په صورت کې، يوه برخه د لارې په جومات کې شامله شي، نه دا چې باک نه لري، بلکې د اسلامي شريعت له مخې، دا غوره کار ګڼل کيږي.

والله أعلم بالصواب

دافتاء آمريت

مولوی عبدالستار (خادم) مولوي محمد عارف (مصلح) مولوي محمدنور (صديقی)